## د افغانستان بانک

## د پولي سیاست لوی آمریت

# د پولي پړسوب میاشتینی راپور

## په هیواد کې د قیمتونو کچې تغییراتو ته بشپړه کتنه

# غبرگولی۱۳۹۹

## لړلیک


پیژندنه.......................................................................................أ

مصرفي توکو د قیمتونو شاخص ....................................................................أ

په هېواد کې د پیسو د پړسوب کچې ته لنډه کتنه: ...............................................ب

مهم ټکي .......................................................................................۱

د پیسو تولیز پړسوب دکلنی محاسبی پر بنسټ غبرگولی میاشت کې زیاتوالی ښکاره کوي............................۱

(۱)دخوراکي توکو شاخص دکلنی بدلون پر بنسټ د تېرو قیمتونو ښکارندوی دی. ...............................۱

(۲)غیرې خوراکي توکی کلنی پړسوب دغبرگولی په میاشت کې بدلون کړی دی...................................۲

دهستې انفلاسیون (اصلي انفلاسیون) ..........................................................۱

## پیژندنه

د افغانستان بانک د قانون لومړي بند او دویمې مادې پر بنسټ، د افغانستان بانک بنسټیزه موخه په هیواد کې ،د قیمتونو ثبات ساتل دي ،چې له مخې د پیسو پړسوب کچه باید داسې ډول وساتل شي تر څو د خلکو اقتصادي پریکړې اغیزمنې نه کړي.
د افغانستان بانک ،د پیسو سیاستونو لوی آمریت ،په هیواد کې د پیسو سیاستونو د پلي کېدونکي ارګان په توګه ،د سمو او مناسبو پالیسو د جوړونې او اجراکونې دندې په غاړه لري. دا پالیسې باید د هیواد د اقتصادي ودې او د مالي ثبات په برخه کې مرسته وکړي .
په یو ټاکلي وخت کې ،د قیمتونو ټولیزې کچې لوړوالي ته د پیسو پړسوب وایي . د یادونې وړ ده د یو یا څو توکو د قیمتونو لوړوالي ته د پیسو پړسوب نه ویل کیږي .
د افغانستان بانک د پیسو سیاستونو لوی آمریت په هیواد کې د پیسو د پړسوب کچې، د معلومولو لپاره د مصرفي توکو له شاخص څخه ګټه پورته کوي .د قیمتونو شاخص په یوه ټاکلې دوره کې د توکو اوچوپړتیاوو د قیمتونو د بدلون د اندازه کولو معیار ته ویل کیږي . چې دا معیار د بیلابیلو لارو څخه په ګټې اخیستنې سره محاسبه کیږي څکه هره لارهد شاخص په ځانګړو برخو کې بدلونونه څرګندوي.
د پیسو سیاستونو لوی آمریت په هیواد کې د قیمتونو کچه وخت ناوخت تر څیړنې لاندې نیسي تر څو د قیمتونو ناغوښتونکې حالت د هیواد په اقتصادي حالت ناوړه اغیز رامینځته نه کړي او د یادونې وړ ده چې د قیمتونو په کچه کې تیز تغیرات د هیواد په اقتصادي ودې ناوړه اغیزه لري نو له دې کبله د پیسو سیاستونو لوی آمریت دا ژمنه کوي په هیواد کې به سمې او مناسبې پیسو پالیسۍ جوړې او پلي کړي . د افغانستان بانک د پیسو سیاستونو لوی آمریت دا هڅه کوي چې په هیواد د پیسو د پړسوب کچه د یو عدد په کچه وساتي ،چې په دې ډول د هیواد اقتصادي ودې ترلاسه کولو کې مرسته وکړي.

## مصرفي توکو د قیمتونو شاخص

د مصرفي توکو د قیمتونو شاخص په هیواد کې د کورنۍ لګښتنو د اندازه کولو تر ټول مهم او ټولیز معیار ګڼل کیږي دا په داسې حال کې ده چې په نړۍ کې د قیمتونو د بدلون د اندازه کولو لپاره له نورو معیارونو څخه ګټه پورته کیږي خو د مصرفي توکو د قیمتونو شاخص یو بشپړ او مهم شاخص دی او د قیمتونو د کچې د اندازه کولو لپاره د یو مهم شاخص په توګه منل شوی دی .
د احصایې او معلوماتو ملي اداره ،چې په هیواد کې د مصرفي توکو د قیمتونو د شاخص د ترتیب دنده په غاړه لري په دې وروستیو وختونو کې یو شمیر مهم بدلونونه رامینځته کړي دي .چې د دې بدلونونو له مخې د سروې ګانو سیمه له لسو ولایتونو څخه تر شلو ولایتونو پورې پراختیا موندلې ده او همدا رنګه د وندېو په برخه کې هم یو څه بدلون رامینځته شوی دی . د دې تر څنګ په دې څیړنه کې بنسټ کال یا اساس کال هم بدلون موندلی دی چې د زیږدیز کال۲۰۱۱ د مارچ میاشتې څخه ۲۰۱۵ د اپریل میاشت ته بدل شوی دی . چې دا بدلونونه د پوښښ سیمه ډیروي اود یو ټولیز او ښه انځور څرګندونه کوي .په تیریو وختونو کې د خوراکي توکو ونډه په ټولیز شاخص کې ۵۲ سلنه وه خو اوسمهال بیا ۴۸ سلنې ته راټیټه شوی او د غیرې مصرفي توکو ونډه په تیر وخت کې ۴۸ سلنه وه چې اوسمهال ۵۲ سلنې ته لوړه شوی ده .چې دا بدلونونه د کورنیو مصرفي توکو په سیستم کې د پام وړ بدلون څرګندوی .دا معلوموي چې د غیرې خوارکي توکو ارزښت تر خوراکي توکو لوړ دی .
د هر توکي ونډه ،د هماغه توکي ونډه د مصرفي توکو په کڅوړه کې څرګندوي چې د ترلاسه کولو لپاره یې مصرفول انعکاسوي . د یو توکي ونډې ډیرښت په هماغه کڅوړه کې د نورو سره پرتله کوي په نوي شاخص کې د غوښې ،غوړیو،وچه او تازه میوو،مصاله جاتو ،د کور سامانونه،درملنه ،اړیکې،اطلاعات اوفرهنګ،هوټلونو برخه زیاته شوی ده دا په داسې حال کې چې د غلو او دانو ،شیدې،پنیر د چر ګانو هګۍ،سابه،خواږه،تنباکو ،جونګړه،ښوونه او روزنه ،ټرانسپورت اود متفرقه برخه کم شوی ده .

## په هېواد کې د پیسو د پړسوب کچې ته لنډه کتنه:

کله چې مونږ د پیسو پړسوب اوړد مهاله بدلون په نظر کې ونیسوو، د پیسو پړسوب اړوندزماني توقعات ښايي مثبت او د افغانستان بانک له خوا د کابو کولو وړ وي او دا په هغه صورت کې شونې ده چې پیالیسی‌او پلانونه په داسې ډول طرحه شي چې د عرضې او تقاضاترمنځ خلا او همدارنګه د کورنیو بازارونو تکیه په وارداتي توکو راکمولو لپاره ګټوري وي. اوسمهال افغانستان کې ګڼ شمیر عوامل وجود لري چې د پیسو پړسوب لپاره موثر او د پیسو پړسوب په بدلون کې مهم رول لوبوي. له هغو عواملو څخه یو تر ټولو مهم عامل چې د افغانستان د پیسو پړسوب لپاره موثر دی، بهرنی عامل دی لکه د لویو سوداګریزو شرکاو، د پیسو پړسوب په کچه کې تغیرات چې د هغه له ډلې څخه د پاکستان او ایران نومونه یادولی شو ځکه افغانستان د خپلې اړتیا زیاته برخه له دغو هیوادونو څخه پوره کوي او کورني بازارونه د دغو هیوادونو له وارداتي توکو څخه ډک دي د کورنیو تولیداتو ټیټه کچه، راکړو ورکړو کې له امریکایي ډالرو څخه استفاده، په هیواد کې د منظم ټرانسپورټی سیستم نشتون، له ګاونډیو هیوادونو سره سوداګریزې او ترانزیتي ستونزی، بازار کې د بشپړ سیالۍ نشتون(انحصار)، اقتصادي او سیاسي ثبات نشتوالی او د راتلونکې په اړه اندیښنې او بی باوری هغه عوامل دي چې زمونږ هیواد کې د قیمتونو د بدلولونو او نوساناتولامل ګرځي. له دې ستونزو سره سره، د افغانستان بانک د پیسو سیاست عمومي امریت په دې واکمن دی چې په هیواد کی د پیسو د پړسوب کچه تر خپل واک لاندې ونیسي .چې له یو رقمي عدد څخه لوړ ن



## مهم ټکي

- د ۱۳۹۹لمريز ليږديز کال دغبرګولی په مياشت کې ټوليز پرسوب زياتوالی موندلی دی. د مصرفي توکو قيمتونه د کلني محاسبې پربنسټ ۶,۲۶سلنې تر ۶,۳۶سلنې پورې زياتوالی څرګندوي . دا زياتوالی د غيرې خوراکي توکو شاخص دقيمتونو د زياتوالي له امله منځ ته را غلی دی.
- د خوراکي توکي د قيمت شاخص له ۱۲,۹۲ سلنې تر۱۲,۸۸سلنی پورې کموالی ښيي ، دا کموالی ډير د( شيدی،سابه، او غيرې الکولي څښاک ) قيمتونو د کمښت له امله رامينځته شوی دی .
- په ورته مهال کې د غيرې خوراکي توکو قيمت د روان لمريز ليږد کال د غويي له مياشتې څخه د غبرګولي په مياشت کې له ۰,۲۴-سلنې تر ۰,۱۳ ډيرښت څرګندوي .
- د غيرې خوراکي توکو شاخص دغبرګولي په مياشت کې زياتوالی موندلی دی، او دا زياتوالي کور،دکور سامانونه،درملنه،مخابرات،اطلاعات او معلومات او متفرقه برخه جوړوي.چې د غيرې خوراکي توکو شاخص يی تر اغيزې لاندې نيولی دی .
- د هستې( خالص) انفلاسيون (۳۰٪ Trimmed Mean ) هم دغبرګولی په مياشت کې تغير څرګندوي. خلاصه شوی اوسط يو مهم معيار دهستې( خالص)تورم ګنل کېږي. چې۵,۴۷سلنې تر ۵,۹۹ سلنې پورې زياتوالی کړی دی.
- په همدې توګه ټوليز پرسوب د کابل ښار په کچه د کلني بدلون پر بنسټ له ۲,۸۸ تر ٤,٤٧ سلنې پورې د غبرګولی په مياشت کې زيات شوي دی او دمياشتيني بدلون پر اساس ۲,۷۵-نه تر۰,۰۷سلنې د غبر ګولی مياشت کې زياتوالی کړی دی.
- د کابل په کچه د خوراکي توکو شاخص دکلنې محاسبې پر بنسټ له ٦,۷۸سلنې تر۸,٦۷سلنې پوری زيات شوی دی. او د غير خوراکي توکو شاخص د کلنی بدلون پر بنسټ د کابل په کچه له ۰,۲۸سلنې تر ۱,۷٤سلنی پوري ډيرښت څرګندوي .

### د پیسو پړسوب (غبرگولی میاشت ۱۳۹۹)

| توکي | کلنی بدلون | | میاشتنی بدلون | |
|---|---|---|---|---|
| | غویی | غبرگولی | غویی | غبرگولی |
| | | | | |
| **ټولیز پرسوب** | ٦,٢٦ | ٦,٣٦ | -١,١٥ | -٠,٨١ |
| خوراکي توکي او غیري الکولي څښاک | ١٢,٩٢ | ١٢,٨٨ | -١,٧٤ | -١,٨٧ |
| غیري خوراکي توکي ،تنباکو او چوپړتیاوې | -٠,٢٤ | ٠,١٣ | -٠,٤٩ | ٠,٣٥ |
| ټولیز شاخص د استوگن ځایونو،غلو دانو ،غوړیو او ټرانسپورټ څخه پرته . | ٤,٨٢ | ٤,٦١ | -١,٧٩ | -١,٤٥ |
| پیسو پړسوب د خلاصه شوي اوسط (٣٠٪)(لنډیز (Trimmed mean | ٥,٤٧ | ٥,٩٩ | | |
| دکابل شاخص | | | | |
| ټولیز پیسو پړسوب | ٢,٨٨ | ٤,٤٧ | -٢,٧٥ | ٠,٠٧ |
| خوراکي توکي او غیر الکولي څښاک | ٦,٧٨ | ٨,٦٧ | -٦,٧١ | -١,٣٩ |
| غیري خوراکي توکي ،تنباکو او چوپړتیاوې | ٠,٢٨ | ١,٧٤ | ٠,٢٧ | ١,١١ |

سرچینی : د احصایې او معلوماتو ملي اداره / دافغانستان بانک

### د پیسو ټولیز پړسوب دکلنی محاسبی پر بنسټ غبرگولی میاشت کې زیاتوالی ښکاره کوي.

د پیسو ټولیز پړسوب کچه د ١٣٩٩لمریز لیږدیز کال دکلنیبدلونونو پر بنست دغبرگولی په میاشت کې زیاتوالی کړی دی. دمصرفي توکو ټولیز پیسو پړسوب له ٦,٢٦ سلنې ٦,٣٦سلنې پورې زیاتوالی څرگندوي. دا زیاتوالی دغیرې خوراکي توکو دقیمتونو دزیاتوالی نه سرچېنه اخیستې ده، چې ټولیز شاخص یې تر اغیزې لاندې نیولی دی.



او له بلې خوا، څرنګه چې دمیاشتیني محاسبې پر بنسټ چې توپیرونه په لندمهاله توګه د څېړنې لاندې نیول کېږي اوپه لنډ مهاله توګه بدلونونه څېړي د دې محاسبې پر اساس له ۱،۱۵-سلنې څخه تر ۰،۸۱-سلنې پورې دغبرګولی په میاشت کې زیات شوی ده.




## (۱)دخوراکي توکو شاخص دکلنی بدلون پر بنسټ د ټیټو قیمتونو ښکارندوی دی.

د احصائې او معلو ملي ماتو ملي اداري د وروستیو ارقامو د لاس ته راوړلو پر اساس دکلني محاسبې پر بنسټ د خوراکي توکو قیمت له ۱۲،۹۲ سلنې پورې ۱۲،۸۸سلنې پورې کمښت څرګندوي . د دې کمښت ا صلي لامل د( شیدی،سابه، خواږه ، او غیرې الکولي څښاک ) دقیمت کموالی دی.



| خوراکي توکي د پیسو پړسوب (غویی- غبر گولی) ۱۳۹۹ | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| توکي | ونډه (٪) | کلنی بدلون | | میاشتنی بدلون | |
| | | غویی | غبرگولی | غویی | غبرگولی |
| خوراکي توکو پړسوب او غیرې الکولي څښاک | ٤٧،٨ | ١٢،٩٢ | ١٢،٨٨ | -١،٧٤ | -١،٨٧ |
| ډوډۍ اوړه غلې داني | ١٤،٦ | ١٤،٧٦ | ١٥،٧٨ | ١،٢٢ | ١،١٧ |
| غوښه | ٧،٥ | ١٠،٧٠ | ١٢،٤٩ | ٢،٢٢ | ١،٦٧ |
| لبنيات(شيدی،پنير،هگۍ) | ٤،٧ | ٤،٠٤ | ٣،٥٨ | ٣،١٢ | -٠،٨٦ |
| غوړي | ٤،٦ | ١٩،١٥ | ٢١،٦٢ | ٥،٨٦ | ٢،٣٠ |
| وچه او تازه ميوه | ٥،٠ | ١٠،٣٥ | ١٠،٨٨ | ١،٠٥ | -٣،٧٦ |
| سابه | ٦،٠ | ٢٣،٠٢ | ١٦،١٥ | -١٧،٩٦ | -١٥،٠٣ |
| خواږه | ٢،٧ | ٣،٦٦ | ٣،٥٩ | ٠،٦٥ | ١،١٥ |
| مصاله | ١،٣ | ٩،٥٩ | ١١،٥٧ | -١٠،٢٢ | -٤،٨٠ |
| غیرې الکولي څښاک | ١،٤ | ٤،١٣ | ٤،٠٨ | ١،١٥ | ٠،٥٨ |

سرچينى : د احصايې او معلوماتو ملي اداره / دافغانستان بانک

## د خوراکي توکي شاخص د میاشتیني محاسبې پر بنسټ غبرگولي په میاشت کې کموالی ښکاره کوي

د خوراکي توکو شاخص په برخه کې دمیاشتیني بدلون معیار پربنسټ دغبرگولي په میاشت کې ۱،۸۷- سلنې ته رسیدلی دی، حال دا چې رقم په تیره میاشت کې ۱،۷۴-سلنه سنجش شوی وو. داکموالی دخوراکي تو کو اجزاوو لکه (غله او دانه ،غوښه ،لبنیات غوړی،وچې او تازه میوې، او غیرې الکولي څښاک) دقیمتونو له امله را منځ ته شوی دی.



### دکلني محاسبې پر بنسټ دغبرګولی په میاشت کې د غلې دانې قیمتونو زیاتوالی کړی دی

**الف - ډوډی، اوړه او غلې دانې** چې ټولیز پړسوب ۱۴.٦ سلنه ونډه لري ،د کلني محاسبې پر بنسټ له ۱۴,۷٦سلنې نه تر ۱۵,۷۸سلنې پورې دغبرګولی په میاشت کې زیات شوی دی. اوهمدا راز د میاشتینې محاسبې پر اساس د دې برخې شاخص ۱,۲۲سلنه غوېې په میاشت کې تر۱,۱۷سلنې پورې د څېړنې په دوره کې کموالی موندلی دی. پاکستان هیواد ته د کندز اوهلمند ولایتونو څخه د غنمو قاچاق ددې لامل ګرځیدلی دی چې شاخص قیمت لوړ کړي .




**ب - غوښه** په ټولیز شاخص کې ۷,۵۰سلنه ونډه ،د کلنی محاسبې پر بنسټ ۱۰,۷۰سلنې تر ۱۲,۴۹سلنې پورې دغبرګولی په میاشت کې زیاتوالې موندلی دی.دا بدلون د میاشتینې محاسبې پر بنسټ (په لند مهاله توګه)له ۲,۲۲سلنه تر ۱,٦۷سلنې پوربکم شوی .ددې اصلی دلیل هم د افغانستان نه په ځانګړې ډول ایران او ترکیه هیوادونو ته د خارویو قاچاق دی .



**پ -** د کلني محاسبې پر بنسټ **دلبنیات :(شیدې،پنیراو دچرګانو دهګۍ)** قیمت  چې دمصرفي توکو ټولیز شاخص **۴,۷**سلنه جوړوي د کلنـي محاســـبې پـــر بنســـټ لـــه ۴,۰۴ ســـلنې تـــر ۳,۵۸ ســـلنې پـــورې د څېړنـــې پـــه  مـــوده کـــې بـــدلون مونـــدلی دی .

سربیره پر دې د میاشتینی محاسبې پر بنسټ د دې برخې شاخص له ۳,۱۲ سلنې تر ۰,۸۶- سلنې پورې کموالی کړی دی. پخوا په هیواد کې د شیدی، پنیر او هګیو نرخ د قرنطین اود عرضې د کموالي له امله زیاتوالي موندلي وو،خو کله چې په هیواد کې د محددیتونو لړی کول او د عرضې زیاتوالی له وجې نه ددې برخې دشاخص قیمت په نورماله توګه راکم شو.




**ت** - د خوراکي توکو یوه مهمه برخه هم د**غوړیو** شاخص دی . چې په ټولیز شاخص کې ۴,٦سلنه ونډه لري . د دې برخې شاخص د کلنی محاسبې پر بنسټ دغویی په میاشت کې له ۱۹,۱۵سلنه تر ۲۱,٦۲ سلنې پورې دغبرګولی په میاشت کېزیات شوی دی. او همدا راز،دمیاشتیني محاسبې پر بنسټ د دې شاخص قیمت له ۵,۸٦ سلنېتر ۲,۳۰سلنېکموالی موندلی دی.

**ث - د وچې او تازه میوې**شاخص چې په ټولیز شاخص کې ۵,۰سلنه ونډه لري.دکلنی محاسبې پر بنسټ ۱۰,۸۸ سلنې ته رسیدلی دي،حال دا چې دا رقم په تیره میاشت کې ۱۰,۳۵سلنه سنجش شوی وو .له بلې خوا د میاشتیني محاسبې پر اساس ددې برخې دشاخص قیمت له ۱,۰۵سلنې د غویی په میاشت کې تر۳,۷٦-سلنې پورې دغبرګولی په میاشت کې کموالی موندلی دی.

ددې شاخص د قیمت ډیریدو اصلی لاملونه له اوړدې مودې وروسته هند هیواد ته د ۱۵۰ ټنه وچې میوې صادرولهند هیواد ته دي . او همدا رنګه د کوید -۱۹- ویروس له امله د تازه میوو بیه چې ویټامین سي پکښې شتون لری ډیر شوی دی.



**ج - سابو** قیمت هم د غوبیی په میاشت کې کمه شویده . دا برخه په ټولیز شاخص کې٦،٠سلنه (ونډه) لري.
او کولای شي هر بدلون په دې برخه کې د پیسو ټولیز پړسوب تر اغیزې لاندې ونیسي- .ددې برخې قیمت د کلني محاسبې پر بنسټ له.۲۳،۰۲سلنېتر ١٦،١٥سلنې پورې د غبرگولی په میاشت کې کموالی موندلی دی.او همدا راز دمیاشتني محاسبې پر بنسټ ددې شاخص قیمت له -١٧،٩٦- سلنې تر ١۵،۰۳- سلنې پورېزیاته شوی ده. د دې شاخص د کموالي لامل د اوړیموسوم دی چې د ذکر شوي شاخص کورني ورکړه يې زیاته کړې.
**ح - خواړه** چې په عمومي شاخص کې ۲،٧ سلنه ونډه لري ،له ٣،٦٦ سلنې تر.۳،۵۹سلنې پورېغبرگولی په میاشت کې کموالی کړی دی. او د میاشتیني محاسبې پر اساس ددې شاخص قیمت له ۰،٦۵سلنې تر ١،١۵سلنې پورې بدلون موندلی ده.
ددې شاخص د کمیدو اصلی لاملونه د شاتو د مچیو روزنه او د شاتو تولید په ورستیو کلونو کی د پام وړده کړې ، او په هیواد کې د شاتو تولید تر ۵۰ سلنې پوری لوړ شوی. او همدا رنگه د کرونا ویروس ناوړین په خاطر د بورې مصرف کم شوی دی.




**خ** - د څیړنې په دوره کې د **مصاله جاتو** قیمت هم د کلني محاسبې پر بنسټ زیاتوالی ښکاره کوي،چې دکلنې محاسبې پر بنسټ له ۹،۵۹سلنې تر۱۱،۵۷سلنی پورېزیات شوی ده .او همدا راز، د میاشتینی محاسبې پر اساس له ۱۰،۲۲-سلنه کې تر۴،۸۰-سلنېپورېزیاتوالی کړی دی.
ددی شاخص د زیاتوالی اصلی لامل د کوید-١٩ –ناروغې په خاطر مصاله جات لکه ادرک ،کورکمن، دار چینی پیرود لپاره دغوښتنې زیاتوالی ګنېل کيږي.
**د - غیرې الکولی مشروبات** قیمت دکلني محاسبې پر اساس له ۴،١٣سلنې تر ۴،۰۸سلنې پورېکموالی کړی دی. همدا راز د میاشتینیمحاسبې پر اساس ،د دې برخې شاخص له ١،١۵سلنې تر ۰،۵۸سلنې پورې دغبرگولی په میاشت کې کموالی په گوته کوي

لکه څنگه چې بوره د غیر الکولي څښاک تولید پروسي کی د اومه موادو  په توگه کار اخیستل کیږي ، نو دبورې قیمت کې کموالی ددی شاخص په نرخ باندی اغیزه کړي دي.




## غيرې خوراکي توکو پړسوب (غويی- غبرګولی) ۱۳۹۹

| اقلام | ونډه (٪) | کلنی بدلون | | میاشتيني بدلون | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | غويی | غبرګولی | غويی | غبرګولی |
| غيرې خوراکي توکي تنباکو او چوپړتياوې | ٥٢,٢ | -۰,٢٤ | ۰,۱۳ | -۰,٤٩ | ۰,۳٥ |
| سګرت او تنباکو | ۰,۳ | ۱,۱۲ | ۱,٤۰ | ۰,۳۹ | ۰,۲۹ |
| جامې | ٤,٦ | ۱۰,۰۸ | ۷,٥٤ | ۳,۳٤ | -۱,٥۹ |
| استوګن ځای | ۱۹,۱ | -۴,۳۸ | -۴,۰۲ | -۲,٤٤ | ۰,۱٦ |
| دکور سامانونه | ۱۱,۹ | ۱,۳۹ | ۰,۷۸ | ۱,٦۸ | -۰,٦۰ |
| درملنه | ٦,۲ | ٤,۳٦ | ۸,۸٦ | ۰,٤۷ | ٤,٦۰ |
| ترانسپورت | ٤,۳ | -۱۰,۱٤ | -۱۰,٤٤ | -٦,۳۷ | -۰,۱۲ |
| مخابرات | ۱,۷ | -٤,۲۲ | -۲,٤۰ | ۰,۳۲ | -۰,۲۰ |
| اطلاعات و فرهنګ | ۱,۱ | ۱,۷۷ | ۳,۱٥ | ۰,۹۰ | ۰,۷۰ |
| ښوونه او روزنه | ۰,٤ | ۱,۲۴ | ۰,۸۳ | -۰,۰۱ | ۰,۰۷ |
| هوټل او رستورانت | ۱,۱ | ۱,۷٦ | ۰,۹۷ | ۰,۲۹ | ۰,۰۹ |
| متفرقه | ۱,٤ | ۱۲,٤۰ | ۱٤,۱۷ | ۰,۷۱ | ۱,۱٤ |

سرچینی : د احصايي او معلوماتو ملي اداره / دافغانستان بانک

## (۲)غیرې خوراکي توکی کلنی پړسوب دغبرګولی په میاشت کې بدلون کړی دی

**غیرې خوراکي**توکو شاخص چې د ټولیز شاخص ۵۲,۲ سلنه جوړوید۱۳۹۹لمریز لیږدیز کال د غبرګولی میاشت کې بدلون راغلی دی او ۰,۱۳سلنې ته رسیدلی دی حال دا چې په تیره میاشت کې۰,۲۴-سلنه سنجش شوی وو. او د دې زیاتوالی لامل(کور ، درملنه، اړیکې ، اطلاعات او معلومات ،او متفرقه ) دبیبزیاتیدل ګڼل کېږي.




دمیاشتیني محاسبې پر بنسټ ددغې برخې شاخص له ۰,۴۹-سلنه دغویی په میاشت کې تر ۰,۳۵سلنې پورې د.غبرګولی میاشت کې زیاتوالی کړی دی .



**الف - دجامو** دشاخص قیمت  چې د ټولیز شاخص کې ۴،٦ سلنه ونډه لري له  ۱۰،۰۸سلنه  تر ۷،۵۴ سلنې پورې د۱۳۹۹ کال دغبرګولی میاشت کې کم شوی دی. او همدا راز  دمیاشتینی محاسبې پر بنسټ هم ددې برخې قیمت له ۳،۳۴سلنه  تر ۱،۵۹-سلنې پورې دغبرګولی په میاشت کې کموالی  موندلی دی. د کویډ ۱۹ ویروس  له امله د جامو او بوټانو پیرود لپاره غوښتنی د کموالی ددې شاخص نرخ کم کړی دی.




**ب - کور،اوبو ،بریښنااو ګاز** ۱۹,۱ سلنه په ټولیز شاخص کې ونډه لري ، دکلني محاسبې پر بنسټ له **۴,۳۸**-سلني تر **۴,۰۲**- سلني پورې د ۱۳۹۹کال دغبرګولی میاشت کې زیاتوالی ښکاره کوي .لکه څرنګه چې ګورو د دې برخې ونډه په ټولیز شاخص کې زیاته ده له همدې کبله دی چې هر بدلون په دې برخه کې په ټولیز شاخص باندې ډیره اغیزه لري ،له بلی خوا د میاشتیني محاسبې پر اساس د دې شاخص قیمت د غبرګولی میاشت کې تر۰,۱٦ سلني پورې رسیدلی ده. حال دا چې ددې شاخص قیمت په تیره میاشت کې **۲,۴۴**-سلنه سنجش شوی وه.



**پ - دکور سامانونه** چې ۱۱٫۹ سلنه په ټولیز شاخص کې ونډه لري د غویې په میاشت کې له ۱٫۳۹سلنې تر۰٫۷۸سلنې پورې دغبرګولی په میاشت کی کموالی موندلی دی او د میاشتینې محاسبې پر بنسټ له ۱٫٦۸سلنه تر ۰٫٦۰-سلنې پورې دغبرګولی په میاشت کې کم شوی. دکرونا وایروس د خپریدو له امله د کور لوازمو ته دکمې غوښتنی له وجې نه ددی شاخص قیمت ټیټ شوی دی.

. **روغتیا**شاخص چې په ټولیز پرسوب کې ٦٫۲ سلنه ونډه لري، دکلنې محاسبې پر بنسټ د روان کال دغبرګولی په میاشت کې تر ۸٫۸٦سلنې پورې زیاته شوی ده، حال دا چې دا رقم په تیره میاشت کې۴٫۳٦سلنه ثبت شوې وه.له بلې خوا د میاشتینی محاسبې پر بنسټ له ۰٫۴۷سلنې تر ۴٫٦۰ سلنې پورې زیاتوالی ښکاره کوي. په افغانستان کی د کرونا وبا خپریدل ددی لامل شوی دی چی په هیواد کی د درملو

نرخ په بی ساري توگه لوړ شي . اود کرونا وایروس د درملنې په خاطر  دیو شمیر درمل کموالی په بازار کی ددی لامل گر ځیدلی دی چی ددی برخی شاخص تر اغیزی لاندی ونیسي.




**ت - ټرانسپورت** چې د ټولیز شاخص ۴،۳۲ سلنه جوړوي .دکلنیمحاسبې پر بنسټ د روان  کال دغبرگولی په میاشت کې له ۱۰،۱۴-سلنې تر ۱۰،۴۴-سلنې پورېبدلون موندلی دی.
او همدا راز .د میاشتینیمحاسبې پر بنسټ ،دا برخه د غیرې خوراکي توکو شاخص له ٦،۳۷-سلنې تر۰،۱۲-سلنې  پورې زیاتوالی کړی دی.
د ډیزلوتیل او اومه تیلو قیمت په نړیوال بازار کي په ترتیب سره ۳۹سلنې او ۳۴ سلنې پوری ټیټی شوی . ددی لامل گرځیدلي دی چی په هیواد کي ددې شاخص بیه ټیټه شي.



**ث - دمخابراتو**شاخص په ټولیز شاخص کې ۱٫۷ سلنه ونډه لري د کلني محاسبې پر اساس د مخابراتو قیمت تر۲٫۴۰-سلنې  پورېزیات شوی دی. ، حال دا چې دا رقم په تیره میاشت کې  هم۴٫۲۲-سلنه سنجش شوی وو. او همدا راز د میاشتینی محاسبې پر اساس د دې شاخص قیمت له ۰٫۳۲سلنې  تر ۰٫۲۰- سلنې پورې کموالی کړی دی.
د تعلیمي او تحصیلي مرکزونو ترڅلو سره د آنلاین زده کړې لپاره دټابلیتونو ،لپتاپونو او د مخابراتي وسیلو پیرود لپاره غوښتنی زیاتیدل  ددی لامل گرځیدلی چی ددی برخی شاخص قیمت لوړه شي .

**ج -** او همدا رنگه **اطلاعات او فرهنگ** چې ۱,۱ سلنه په ټولیز شاخص کې ونډه لري ،ددې ښکارندوی دي چې په ټولیز شاخص باندې ډیر لږ اغیزه کړې.او د دې شاخص قیمت د کلني محاسبې پر اساس له ۱,۷۷سلنې نه تر ۳,۱۵ سلنېپورېزیاتوالی موندلی دی، او دمیاشتینې محاسبې پر بنسټ له ۰,۹۰سلنې ۰,۷۰سلنېپوری کموالی ښکاره کوي.




**ح-** د **ښوونې او روزنې** شاخص د کلني محاسبې پر بنسټ چې له ۱,۲۴سلنهدغویی په میاشت کې تر ۰,۸۳سلنه پورې د ځیړنې په دوره کېکموالی کړی دی. او همدا راز دمیاشتینی محاسبې پراساس دا شاخص له ۰,۰۱- سلنې تر۰,۰۷سلنې پورې ډیرښت ځرکندوي د کرونا وایروس د مخنیوي لپاره د تعلیمی او تحصیلي مرکزونو تړل ددی شاخص کمیدو اصلی لامل ګڼل کیږي.

**خ -** د **رستورانټ او هوټل**د شاخص قیمت غویی په میاشت کې له ۱,۷۶ سلنې تر ۰,۹۷ سلنې پورې د روان کال د غبرگولی میاشت کې بدلون کړي دی. همدا راز دمیاشتیني سنجش پر بنسټ دا شاخص د غیرې خوراکي توکو له برخې نه له ۰,۲۹سلنه تر ۰,۰۹سلنې پورې د ځیړنې په دوره کې کموالی کړی دی. دښارونو قرنطینول اود هوټلونو او رستورانتونو بندیدل د کرونا وبا د مخنیوی لپاره د دغې شاخص دبیې کمیدلو کې مرسته کړې.



**د -** او همدا راز د **متفرقه** برخې شاخص د روان کال د غويي په مياشت کې له ۱۲،۴۰سلنې تر۱۴،۱۷سلنې پورې دغبرگولی  په مياشت کې زياتوالی  کړی دی. او همدا راز د مياشتيني سنجش پر بنسټ له ۰،۷۱سلنې تر ۱،۱۴سلنې  پورې زياتوالی  کړی دی.
د قرنطين په موده کې د کوېډ ۱۹ ناروغې سره د مبارزې لپاره د مينځلو موادو کارول د ډير والی  له وجې نه ددی شاخص بيه زياتوالی موندلی دي.

## دهستې انفلاسيون (اصلي  انفلاسيون)

په هيواد کې د هستيي انفلاسيون کچه د افغانستان بانک د پاليسو اغيزمنتيا د قيمتونو تولیزې کچې  کچې باندې د کنترول ښکارندويي کوي.
د دې معيار پربنسټ، د انفلاسيون د کچه  بدلونونه چې غير عادي عوامل لري او د کنترول  هم بهر دي، په شاخص کې په پام کښه نيول کېږي د انفلاسيون کچه زياته برخه د فصلي بدلونونو او کله ناکله د غيرې عادي پيښو له امله اغيزمن کېږي. استفاده کېږی . په دغه کړنلاره کې هغه اجزاوی چې په غير عادی توگه قيمت يې بدلون مومي په شاخص کې ترنظر لاندې نه نيول کېږي تر څو پورې په ټوليز شاخص باندې يې د اغيزې نه مخنيوی وشي .
د هستې انفلاسيون د معلومولو له معيارونو څخه يو يې هم د اوسط لنډيز (Trimmed Mean%۳۰ ) دی.  دغه معيار يو مشخصه برخه په نظر کې نيسي او د ساده لنډيز شاخص په اساس وروسته له نظر لاندې اجزاوې تر لرې کولو وروسته محاسبه کيږي . د دې  معيار په اساس پيسو پړسوب د ۱۳۹۹لمريز ليږديز کال دغويي مياشت کې له ۵،۴۷سلنې  تر ۵،۹۹ سلنې پوربدغبرگولې په مياشت کې زيات شوی دی.
بل معيار د هستې تورم عبارت دی له **لګښتي توکو شاخص  بې د ډوډۍ ،غوړې او ترانسپورت** څخه . چې پيسو پړسوب د دې معيار  په اساس ۴،۶۱ سلنې ته د غبرگولی په مياشت کې رسيدلی دی حال دا چې دا رقم په تيره مياشت کې۴،۸۲سلنه سنجش شوی وو. د دې معيار  له مخې د مياشتيني محاسبې پر بسټ له ۱،۷۹-سلنې تر۱،۴۵-سلنې پورې زياتوالی ښکاره کوي.




.